# استبداد تېر شو؛ خو پای ته نه دی رسېدلی او تر هغه به روان وي چې د الله سبحانه و تعالی کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت نه وي پلي شوي



د هیواد لپاره یو مهمه او تاریخي شېبه هغه وه، چې باریسان ناسیونال (BN) د پنجشنبې په ورځ د ۱۴ ام پړاو عمومي ټاکنې وبایللې، هغوی له تېرو ۶۰ کلونو څخه زیات پر دغه هیواد حاکم وو. باریسان ناسیونال یوازې د ۲۲۲ پارلماني څوکیو له ډلې ۷۹ څوکۍ ترلاسه کړې په داسې حال کې، چې د پاکاتان هارپن (PH) ایتلاف چې د فریبومي برساتو مالیزیا (PPBM) گوند، کعادیلن رعیت (PKR) گوند، ډیموکراتیک اکشن (DAP) گوند او امانة نگارا (Amanah) گوندونه پکې دي، د پارلمان ۱۱۳ څوکۍ ترلاسه کړې. په پاتې څوکیو کې اسلام سي مالیزیا (PAS) گوند ۱۸، وارثان صباح گوند ۸، سولیډرټي تناه اریکو یوه او خپلواکو نوماندانو ۳ څوکۍ خپلې کړې. تاریخي شېبه هغه مهال وه، چې پاکتن هارپن (PH) ایتلاف وتوانېد جوهور، نگاري سمبیلان او ملاکا ایالتونه خپل کړي. دا ایالتونه له ډېره وخته د باریسان ناسیونال (BN) گوند د نفوذ سیمې او سنگرونه وو. په سلنگور، پیراک، قدح او پینانگ ایالتونو کې پاکتن هارپن (PH) ایتلاف وتوانېد چې واک خپل کړي دغه راز د ډاکټر مهاتهیر محمد له لورې په ۹۲ کلنۍ کې د لمړي وزیر په توگه د لوړې ترسره کول یو بله تاریخي شېبه وه.
تر دا مهاله د هیواد سیاسي فضا باثباته برېښي. که د ډاکټر مهاتهیر محمد هغه اعلان پر خپل ځای پربږدو، چې له مخې یې پاچا (یانگ دې پرتوان آگونگ) هوکړه کړې، چې انور ابراهیم ته شاهي عفوه اعلانوي او په دې سره به د لمړي وزیر پخوانی مرستیال ژر خوشې شي. دا به بیا ده ته لار پرانیزي چې مهاتیر یې ځای ناستی شي او هر څه به د پلان له مخې تر سره شي.
**په رواني تودې سیاسي فضا کې حزب التحریر ـ مالیزیا په ډاگه کوي:**
**۱ـ پخواني حاکم گوند ته!**
موږ په وار وار تاسو ته یادونه کړې، چې الله سبحانه و تعالی تر هر چا ځواکمن دی او ورته اسانه ده چې په هر وخت کې له تاسو څخه واک بېرته واخلي. موږ تاسو ته څو ځله یادونه کړې، چې ستاسو دنده د الله سبحانه و تعالی قانون په بشپړه توگه پلي کول دي، خو تاسو مغروره یاست، هېڅکله مو غوږ کېنښود او زموږ سلا مشورې مو له پامه وغورځولې. څومره مو چې په توان کې وو، همغومره مو د خلکو او حزب التحریر پر وړاندې له بې عدالتیو څخه کار واخیست. اوس الله سبحانه و تعالی له تاسو څخه د هغو خلکو پر مټ واک واخیست، چې له کلونو راهیسې تاسو پرې تېری کاوه. تاسو په دې نړۍ کې الله سبحانه و تعالی هېر کړی او په رښتیا سره به تاسو په اخرت کې د الله سبحانه و تعالی له لورې له پامه وغورځول شئ. تاسو په دې نړۍ کې خپله جزا ولیدله او که مو توبه ونه ایستله تر دې سخته لویه جزا به مو په اخرت کې انتظار کوي. دغه راز باید پوه شئ د هغې مالیزیایي- نژاد پرستۍ ننگه مو چې کوله د اکثریت خلکو له لورې رد شوه او تر ټولو مهمه د پام وړ دا ده چې نژاد پرستي حرامه او اسلام منع کړې.
**۲- نوي حاکم گوند ته!**

تاسو د خلکو له لورې غوره شوي یاست او واک ته د الله سبحانه و تعالی په خوښه رسېدلي یاست. زموږ لمړنۍ او تر ټولو مهمه لارښونه تاسو ته دا ده، چې باید الله سبحانه و تعالی مو په یاد وي او هېڅکله هغه سبحانه و تعالی د حکومت کولو پر مهال مه هېروئ! کله هم د تېر رژیم په څېر له تکبر څخه ډکه، حریصه او ناعادلانه کړنلاره مه غوره کوئ. تاسو په خپلو سترګو ولیدل، چې څه ډول الله سبحانه و تعالی د تېر رژیم واک له منځه یووړ او دا هغه سبحانه و تعالی ته ډېره اسانه ده. نو ځکه مو تل په یاد وي چې الله سبحانه و تعالی ته د واک بېرته اخستل ډېر اسانه دي، چې پر تاسو یې لورولی. په رښتیا سره دا واک یو باور دی او الله سبحانه و تعالی به یې په آخرت کې درنه خامخا پوښتنه کوي. باور یعنې څه؟ باور یعنې په هغه څه حکم وشي کوم چې الله سبحانه و تعالی رالېږلي دي! پر تاسو فرض ده، چې د تېر وخت ټول هغه نظامونه او قوانین ګوښه کړئ، چې له ښکېلاک څخه را پاتې دي او پر ځای یې د الله سبحانه و تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه قانون جوړ او پلی کړئ. په دې توګه درته یادونه کوو، چې تاسو د اسلام د بشپړ پلي کېدو په موخه مکلف یاست. که څه هم موږ پوهېږو چې تاسو به دا چاره ترسره نه کړی؛ خو بیا هم موږ تاسو ته د دې مسولیت یادونه کوو، ترڅو په اخرت کې مو الله سبحانه و تعالی ته د دې مسولیت په اړه ځواب ویلی وي. په رښتیا سره دا باور به ستاسو پر اوږو لوی پېټی وي او هغه څوک به ډېر د افسوس وړ وي چې په دې برخه کې غفلت وکړي.

**۳- هغه اسلامي ګوند ته، چې په دغو ټاکنو کې سیالی ته را وړاندې شوی و!**

له خپلو ځانونو سره محاسبه وکړئ، چې ولې اسلامپالنه د خلکو له لورې رد شوه او همدارز تاسو په وړوکي او محدوده بریا مه ویاړئ. رښتیا هم دا هیڅ د ویاړ ځای نه دی چې د الله سبحانه و تعالی قانون د له پلي کېدو پاتې شي. تاسو به ښایي ځینې څوکۍ ګټلي وي؛ خو حقیقت لا هم څرګند دی چې اسلام لا بریا نه ده موندلې. موږ په وار وار تاسو ته یادونه کړې او لا به یې یادوو، هغه سیاسي مبارزه چې د بې ایمانه لوېدیځ په دیموکراتیک نظام کې ترسره کېږي هېڅکله به هم اسلام ته بریا ور نه کړي. ځکه دیموکراسي د اسلام د بریالي کېدو په موخه نه، بلکې د لوېدیځ له لورې داسې ډیزاین شوې چې د اسلام مخه ډپ کړي.

**۴- هغه کسانو ته چې په رښتیا سره غواړي اسلام بریا ومومي!**

ستاسو په منځ کې داسې کسان شته چې نه غواړي په پارلمان کې غیر مسلمانان په واک کې ووینې. دا خواشینونکې ده چې هر څه په خپله منځته نه راځي، دیموکراسي ده چې غیر مسلمانانو ته په پارلمان کې د ګډون اجازه ورکوي! ان اسلامي ګوند په خپله دې ته زمینه برابره کړې، چې کافر نوماندان پارلمان ته لاره پیدا کړي! له دې امله څه ډول به د اسلام د بشپړ پلي کېدو هیله ولرو، چې نظام په خپله غیر مسلمانانو ته د واک ته رسېدو اجازه ورکوي! تاسو باید پوه شئ چې اسلام به هیڅکله هم د دیموکراتیک نظام په اډانه کې بریا ونه مومي. سربېره پر دې که د پارلمان ټول واک له مسلمانانو سره وي بیا هم بې ګټې دی. ځکه د الله د حق پر وړاندې قانون جوړونه د دوی له لورې غصب شوې.

**ای مسلمانانو!**

تاسو په څوارلسم پړاو ټاکنو کې وښودله چې تاسو په هیواد کې د ظلم او ناعادلانه رهبرۍ تر سیوري لاندې له ژوند کولو وروسته بدلون غواړئ. ستاسو دې په یاد وي چې بې عدالتي به تر هغې دوام مومي چې د الله سبحانه و تعالی قانون نه وي پلی شوی. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾**

[المائده:۴۵]

*ژباړه: او کوم خلک چې د الله سبحانه و تعالی له نازل شوي قانون سره سمه پرېکړه ونه کړي، هم هغوی ظالمان دي.*

له دې امله د هر هغه چا چې د هیواد واکمني په لاس کې وي او هغه څه نه پلي کوي چې د الله سبحانه و تعالی له لورې راغلي وي؛ بیا نو په رښتیا سره دوی ظالمان او په استبداد سره واکمني کوي. هغه مهال به په رېښتني توګه استبداد له منځه لاړ شي، چې کله د الله سبحانه و تعالی قانون په پوره توګه پلی شي. تر هغې چې د هیواد نظام له دیموکراسۍ او سیکولریزم څخه اسلام ته بدل نه شي، تل به بې عدالتي او استبداد وي. رېښتنی عدالت به هغه مهال تر لاسه شي چې کله موږ د شریعت تر سیوري لاندې ژوند وکړو او شریعت یوازې په رېښتني توګه هغه مهال راتلای شي چې اسلامي دولت (خلافت) شتون ولري.

د باریسان ناسیونال (BN) له ناکامۍ، تکبر، حرص او تر دومره ډېرو کلونو وروسته ظلم څخه دا جوتېږي، چې د استبداد دور له منځه ځي. خو بیا مو هم په یاد وي چې په بشپړه توګه استبداد هغه مهال له منځه ځي، چې کله پر هیواد د خلیفه له لورې د الله سبحانه و تعالی د کتاب او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له سنتو سره سم حکومت پیل شي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکوال: د حزب التحریر مالیزیا ویاند عبدالحکیم عثمان**

**ژباړن: عبدالله لطفي**

**۱۴۳۹هق، د شعبان ۲۷ مه**

**۲۰۱۸م، د مې ۱۳ مه**